# په پښتو کښې د "ئې ګانو" پېژندنه او استعمال

جاويد خليل

د پښتو په حروف تهجي او ليک دود کښې به اول اول صرف د دوؤ ئې ګانو استعمال کېدو چې يوه په غونډه (ی) او بله په اوږده (ے) پېژندې شوه. ولې وخت تېرېدو سره سره چې کله د پښتو په ليک دود (املا) سيمينارونه او غونډې وشوې او يو معياري ليک (املا) د پښتو دپاره غوره او صحيح وټاکلے شو نو په هغې کښې د بعضې نورو تورو نه علاوه د ئې ګانو مسئله هم حل کړې شوه. اګر کۀ د ئې ګانو دا مسئله لږه کړکېچنه غوندې وه او اوس هم زده کونکو ته لږه ګرانه غوندې ښکاري. خو چې کله ئې زده کړي او پرې پوهه شي نو بيا وائي چې هن اوس د پښتو ليک دود صحيح او معياري شو. دلته به زمونږ دا کوشش وي چې په لږ وخت کښې د دې ئې ګانو پېژندګلو وشي او بيا د دې په استعمال خبرې وکړې شي.

د پښتو په اوسني ليک دود (املا) کښې نن سبا د پنځو ئې ګانو استعمال کېږي او هغه دي:

(ي، ې، ی، ئ، ے)

**وړومبۍ (ي) ته يا ئۍ معروف وائي:** معروف ورته ځکه وايو چې دا (ي) د مخکښې نه نۀ صرف پېژندلې شوې ده، بلکې استعمال به ئې هم کېدو. دا هم هغه ئې ده کومې ته به چې مونږ غونډه (ی) وئيله. ولې صرف د لږ بدلون په خاطر اوس لږه بدله شوې ده او په استعمال کښې ئې هم فرق راغلے دے. دې (ي) لاندې اوس دوه Parallel يعني اړخ په اړخ متوازي يا څنګ په څنګ دوه نقطې اچول کېږي. دا ځکه چې دا (ي) چې هر چرته استعمالېږي نو د يو ثقيل زير اواز ترې لاندې وځي.

لکه : سړي، زمري، اودي، غوړي، چينې وغېره. يا

لکه: ليکلي، کتلي، خوړلي، ښنبلي وغېره.

دا(ي) زياته د جمع په حالت کښې استعمالېږي

لکه: سړي راغلي دي

هغوي راغلي دي

هغۀ غوړي خوړلي دي وغېره وغېره

د دې نه علاوه يو مخصوص علامت يا قاعده په دې لړ کښې دا هم ده چې هر چرته د مذکر واحد اسم چې په اخر کښې ئې مجهوله (ے) راځي د هغې د جمع په حالت کښې به دا معروف (ي) اکثر راځي

لکه: نرے- نري ، زمرے- زمري، سړے- سړي، لوښے- لوښي.

معروفه (ي) د جمع نه علاوه په واحد حالت کښې هم استعمالېږي لکه هغۀ د زمري لکۍ نيولې ده. غفار د سپي ښنه ماته کړې ده. وغېره وغېره.

کۀ مونږ فکر وکړو نو دا معروفه (ي) څۀ نوې نۀ ده. د دې نه مخکښې هم د دې (ي) استعمال په پښتو کښې ؤ. زمونږ ډېرو کلاسيکي شاعرانو او اديبانو د دې معروفې (ي) استعمال وخت په وخت کړےدے لکه بايزيد انصاري، اخوند درويزه، مرزاخان انصاري او داسې نورو.

د دې نه علاوه مستشرقینو هم د دې معروفې (ي) استعمال کړے دے. په دې حقله تاسو کتے شئ د مېجر راورټي (1805-1895) پښتو ګرائمر، پښتو ډکشنري او د دهٔ نصابي ټيکسټ بُک ګلشن روه، هنري والټر ببليو چې کومه ډکشنري جوړه کړې ده. په هغې کښې هم د معروفې (ي) استعمال شوے دے. نهٔ پوهېږو چې وروستو پښتنو ليکوالو ولې دا رواج پرېښودو. شايد ځان ته د اسانۍ په وجه يا د سُستۍ په وجه.

**يـا ئې مخصوصه (ې) :**

اوس چې مونږ د کومې (ې) ذکر کوو نو د پښتو په ليک دود (املا) کښې هم دې (ې) ټوله پېچيدګي پېدا کړې ده، ولې حقيقت دا دے چې هم د دې (ې) په استعمال د پښتو ليک دود يعنې (املا) تر کافي حده بلکې زهٔ به دا ووايم چې په پوره توګه صحيح او سمه شوه. ولې د لږې غوندې پوهې او فکر ضرورت دے.

کهٔ مونږ فکر وکړو نو په پښتو ژبه کښې د غونډه معروفې (ي) او د يائې مجهول يا پرته (ے) نه علاوه يو بل مخصوص آواز هم پښتانهٔ تلفظ کوي چې د يو خفيف زېر په استعمال ئې مونږه عام وايو. دې قسمه اواز يا تلفظ دپاره مونږ سره د پښتو په تورو کښې هېڅ قسم له يو توره هم نهٔ ؤ، نو ځکه د پښتو ژبې عالمان/ فاضلان کښېناستل او دې تلفظ،دې آواز دپاره ئې يو داسې توره خوښ کړو چې د پښتو نه علاوه په بله يوه ژبه کښې هم دا توره نشته نو ځکه ورته د يائې مخصوص نوم ورکړے شو. دا يائې مخصوص هم دغه غونډه معروفه ئې ده خو د ځنګ په ځنګ نقطو په ځائے ترې لاندې باندې عمودي دوه نقطې اچولے شي، لکه (ې) دې ئې ته يائې مخصوص وئيلے شي. د دې يائې مخصوص په استعمال اوس د پښتو په ليک دود کښې ډېره اساني پېدا شوې ده. اوس به څوک:

کېلې، مالټې ، رابطې، ډيوې، مشغلې، وړمې

کيلے، مالټے، رابطے، ډيوے، مشغلے او وړمے

نهٔ ليکي، يا به دا فقره څوک داسې نهٔ ليکي.

(هغه تندے اخستے ؤ ځکه ئې تندے تريو ؤ)

داسې به ئې ليکي: (هغه تندې اخستے ؤ، ځکه ئې تندے تريو ؤ).

دغه شان کهٔ دا مخصوصه (ې) د کلمې يا لفظ په مېنځ کښې راځي نو دا شان (ېـ) به ليکلے شي لکه:

تېر، ګېر، هېر، خبر، پېر وغېره.

اوس کهٔ مونږ خيال وکړو نو په امير، تير، وير، زنځير، تصوير، تحرير په دې ټولو کښې د (ي) د آواز کافي فرق دے. تير او تېر يا پير او پېر کښې کهٔ مونږ خيال وکړو نو واضحه فرق به محسوسېږي. کهٔ اوس مونږ يوه فقره داسې ليکو:

تير په اوبو کښې تېر شو يا

مرشد د پير په مخکښې پېر نهٔ خوري يا پېر نهٔ اچوي

ګډا بغېر د پېر نه نهٔ کېږي

نو د مخصوصې (ې) فرق واضحه کېږي، يا کهٔ مونږ د درې واړو ئې ګانو فرق واضح کوو نو هغه به داسې وي: سړے سړې اوبه څښي

سړے کېلې خوري

زمرے مالټې نهٔ خوري

په وړومبۍ فقره کښې سړے چې مذکر دے مجهوله (ے) پکښې استعمال شوې ده. ورپسې

سړې يعنې يخې اوبهٔ کښې د مخصوصې (ې) استعمال شوے دے او څښې کښې د معروفې (ي) استعمال شوے دے.

دغه شان کېلې کښې مخصوصه (ې) او خوري کښې معروفه (ي) استعمال شوې ده. په زمرے کښې مجهوله (ے) مالتې کښې مخصوصه (ې) او خوري کښې معروفه (ي) استعمال شوېده چې فرق ئې صفا معلومېږي.

بل هر هغه اسم چې مذکر وي نو په اخر کښې به ئې مجهوله (ے) راځي او چې کله د دې اسم جمع جوړېږي نو د هغې په اخر کښې به معروفه (ي) راځي لکه: سړے- سړي ، زمرے -زمري، تندے- تندي

بل هر هغه اسم چې ماده وي او کله ئې جمع جوړېږي نو د تانيث د علامت په توګه به پکښې يائې مخصوص يا مخصوصه (ې) راځي لکه:

| | | | |
|---|---|---|---|
| کتبه | کتبې | حجره | حجرې |
| مېکده | مېکدې | مېخانه | مېخانې |
| ښځه | ښځې | منه | منې |
| زړه | زړې | وغېره | |

هم د دې يائې مخصوص په وساطت اوس مونږ د افعالو په ګردان کښې هم د مذکر، مؤنث او جمع فرق په اسانه کولے شو لکه:

| مذکر | مؤنث | جمع |
|---|---|---|
| راغلے دے | راغلې ده | راغلي دي |
| کتلے دے | کتلې ده | کتلي دي |
| داغلے دے | داغلې ده | داغلي دي |
| ليکلے دے | ليکلې ده | ليکلي دي |

د يائې مخصوص (ې) د پېژندنې نه پس اوس مونږ له پکار دي چې د مصدر نه جوړېدونکي فعلونه په ليک او لهجې دواړو کښې سم او برابر ليکو لکه:

کېدل، کړېدل، خرابېدل، صبرېدل، ودرېدل وغېره مصدر نه کېږي، کړېږي، خرابېږي، صبرېږي ودرېږي وغېره.

چې د غلطۍ امکان نۀ وي، د يائې مخصوص استعمال په پښتو ليک دود کښې پخوا هم رائج ؤ، ولې وخت تېرېدو سره سره دا رواج ختم کړے شو، کۀ مونږ زاړۀ قلمي کتابونه وګورو نو د يائې مخصوص استعمال پکښې شوے دے.

### يائۍ تانيث (ۍ) :

د يائې تانيث پېژندګلو او استعمال دواړه اسان دي. دا ئې د عامې غونډې ئې شکل دے خو په آخر کښې ورته يوه لکۍ شانتې يعنې يو کش لګولے شي هم دې کش سره دا د تانيث شکل او اواز پېدا کوي چې په اسانه پېژندلے او ليکلے شي. لکه (ۍ)

په پښتو کښې هر هغه اسم چې مؤنث وي او په اخر کښې ئې دا (ۍ) راځي نو د کش په سبب به پېژندے شي. د دې (ۍ) رواج هم د پخوا راهسې ؤ خو استعمال ئې کم ؤ. زياته به په غونډه (ئ) همزه اچولې شوه. لکه جينئ، لکئ، کرسئ وغېره. ولې د دې نه به يو مشکل دا هم پېدا کېدۀ چې د امر د ئې (ئ) او په دې (ئ) کښې به بالکل بېلتون نۀ شو کېدے. بس صرف د فقرې استعمال نه به ئې پته او اندازه لګېده، باقي هيڅ څۀ قاعده ئې مقرره نۀ وه.

د دې کش واله ئې (ۍ) په استعمال اوس ډېره اساني پېدا شوې ده. اوس مونږ کرسۍ، جينۍ، لکۍ، چپلۍ، څپلۍ، ننتکۍ وغېره نۀ صرف په اسانه ليکلے شو بلکې په اسانه ئې پېژندے هم شو

چې دا د تانيث لفظونه دي. دا به کرسۍ، جينۍ، لکۍ، چېلۍ، څپلۍ، نتکۍ نۀ ليکو داسې به ئې ليکو لکه:

جينۍ په کرسۍ ناسته ده، کاپۍ لولي. يا

جينۍ په ښادۍ کښې پولۍ وېشي.

دا (ۍ) د کلمې سر او مېنځ کښې نۀ راځي.

**يائې امر يا فعلي ئۍ (ئ):**

دې (ئ) ته يائې امر يا فعلي ئې ځکه وئيلے شي چې د امر حکم په مناسبت استعمالېږي.

لکه: راشئ، ورشئ، وخورئ، وکړئ، پاځئ وغېره.

د فعل امر يا فعل د نورو حالتونو نه علاوه هم د دې (ئ) استعمال په پښتو کښې شته لکه:

تاسو تلي وئ، تاسو څوک يئ، يا تۀ څوک ئې

دغه شان په ضمير متصل کښې هم د ئې د پاسه به همزه ليکلے شي لکه:

هغه ئې ښکل کړو، هغه ئې راوستو.

**مجهوله (ے) يا اوږده (ے):**

مجهوله (ے) يا پرته (ے) هغه ئې ده چې مخکښې ترې د پښتو مخصوص حرکت (زورکے) وي چې يو اوږد آواز ورکوي لکه:

سړے، زمرے، کرړے، کوترے وغېره

په اسم کښې دا (ے) اکثر د واحد مذکر دپاره استعمالېږي او په فعل کښې هم د واحد مذکر اواز ورکوي لکه:

راغلے، تللے، ليکلے، خوړلے وغېره

مجهوله (ے) د کلمې په مېنځ او سر کښې نۀ راځي.

دلته دا هم ياد ساتل پکار دي چې د مجهولې (ے) استعمال په سوېلي پښتونخوا کښې او بره افغانستان کښې بېخي نشته. هغوي دې (ے) دپاره د معروفې (ي) غونډې غونډه (ى) استعمالوي چې لاندې ترې د معروفې (ي) غونډې دوه ټکي يا نقطې نۀ اچوي. دغسې دا (ى) په اسانه پېژندے شي او کۀ مونږ خيال وکړو نو د دغه سيمو اوسېدونکي د دې (ى) يو مخصوص اواز هم وباسي لکه:

خداى، ځاى، سړى وغېره

داسې آواز چې نۀ خو زمونږ د مجهولې (ے) اواز دے او نۀ د يائې امر (ئ) بلکې د دې ترمېنځه دے.

د باړه ګلۍ په سيمينار کښې په دې (ى) کافي بحث شوے دے. د افغانستان، بلوچستان او زمونږ د سوېلي پښتونخوا عالمانو کافي کوشش وکړو چې دا يائې مجهول (ے) دې بېخي ختمه کړے شي او د دغې غونډې (ى) استعمال دې په ټوله پښتونخوا کښې رائج شي خو ولې مونږ ورسره ونۀ منله او کافي بحث نه پس دا فېصله وشوه چې دا (ے) چې دلته په لره پښتونخوا کښې ئې استعمال زيات دے او کافي متعارف ده ځکه نو د دې ځائے خلق دې هم داسې (ے) د پرتې ئې استعمال کوي او بره د افغانستان او سوېلي پښتونخوا ليکوال دې هم داسې د غونډې ئې (ى) استعمال کوي، البته لاندې نقطې به ورته نۀ شي اچولے چې معروفې (ي) سره ئې اشتباه نۀ پېدا کېږي.